| په ځانګو کې د محصلینو او د کار د حجم په تناسب د استادانو د موجودیت مېزان | 0.02 | 4 | 0.08 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 |
| د منظمې او دوامداره برېښنا موجودیت | 0.02 | 4 | 0.08 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 | 4 | 0.08 | 3 | 0.06 |
| په ورځني ډول د نویو څېړنیزو او مطالعاتي سرچینو څخه د استفادي میزان | 0.01 | 3 | 0.03 | 3 | 0.03 | 4 | 0.04 | 3 | 0.03 | 3 | 0.03 |
| د نظارت او ارزیابي سیستم او اطلاعاتو د بانک موجودیت | 0.03 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 |
| د تدریس، مطالعې، او څېړنې لپاره د مناسب چاپیریال او امکاناتو د موجودیت مېزان | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 |
| د نشراتو، او علمی مجلې موجودیت | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 2 | 0.08 |
| د پوهنځی په رسمی فعالیتو کې د کاغذ پرانی موجودیت | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| د ښځینه محصلینو لپاره د ضروري سهولتونو موجودیت | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 |
| د درسي موادو او کتابونو د چاپولو میزان | 0.03 | 1 | 0.03 | 2 | 0.06 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 |
| د پوهنځی لپاره د مناسبو زېربنایي تاسیساتو موجودیت | 0.05 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0.04 | 1 | 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | **0.04** | **د محصلینو او کار حجم په تناسب د مدیرانو او خدماتي کارمندانو د موجودیت میزان** |
| 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.1 | 2 | **0.05** | **د پوهنځي په سطحه د معیاري کتابتون موجودیت** |
| 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | **0.04** | **د پوهنځي په سطحه د کمپیوټر لبب موجودیت** |
| 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.1 | 2 | **0.05** | **د پوهنځي په سطحه د ایمیني شرایطو او امکاناتو د موجودیت میزان** |
| 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | **0.03** | **له لوړو زده کړو څخه ټولنیز او فرهنګي ملاتړ** |
| 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.03 | **د لوړو زده کړو قوانین او مقررات** |
| 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.03 | **په هېواد کې لوړو زده کړو (لېسانس، ماستري او دوکتورا) ته د تقاضا زیاتوالی** |
| 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.03 | **د مسلکی ، وړ او ځواني انساني قوي د موجودیت میزان** |
| 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.03 | **د لوړو زده کړو څخه د حکومت د ملاتړ میزان** |
| 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.12 | 4 | 0.12 | 4 | 0.12 | 4 | 0.02 | **د لوړو زده کړو د رشد او انکشاف لپاره د کاری فرصتونو او بازار موجودیت** |
| 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.03 | **استادانو ته د مناسبو حقوقو او معاشاتو ورکړه** |
| 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.04 | **د بازار د غوښتونو په تناسب د تحصلي رشتو میزان** |
| 0.2 | 4 | 0.15 | 3 | 0.2 | 4 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.05 | **د بازار د ضرورتونو په تناسب د محصلینو فارغ کول** |
| 0.12 | 3 | 0.16 | 4 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.04 | **د هیواد سیاسی حالت** |
| 0.16 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 | 4 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.04 | **د لوړو زده کړو د مؤسساتو او پوهنتونونو ډیروالی او ظرفیت** |
| 0.12 | 4 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.03 | **د بازار د غوښتنو سره هماهنګه زده کړییز نظام** |
| 0.06 | 2 | 0.06 | 2 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.06 | 2 | 0.03 | **د لوړو زده کړو د کیفیت سطحه** |
| 0.06 | 2 | 0.03 | 1 | 0.06 | 2 | 0.06 | 2 | 0.03 | 1 | 0.03 | **پوهنتونونو ته د علمي ازادي ورکولو میزان** |
| 0.04 | 2 | 0.02 | 1 | 0.02 | 1 | 0.02 | 1 | 0.04 | 2 | 0.02 | **نوښت او تحقیق ته د پاملرنې میزان** |
| 0.04 | 2 | 0.02 | 1 | 0.04 | 2 | 0.04 | 2 | 0.04 | 2 | 0.02 | **د څیړني په اساس اجراتو ته د پاملرنې میزان** |
| 0.03 | 2 | 0.06 | 2 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | 1 | 0.03 | **په ټولنه کی د قانون حاکمیت** |
| 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.1 | 2 | 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.05 | **اداری فساد** |
| 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | 1 | 0.04 | **قومګلوي ، او قومی تعصب** |
| 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.06 | 1 | 0.06 | **په ټولنه کې د تعلیم او تحصیل د ارزښت اړوند عامه پوهاوی** |
| 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.04 | **د خلکو اقتصادي وضیعت** |
| 0.1 | 2 | 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | **په ټولنه کې د سواد سطحه** |
| 0.12 | 2 | 0.12 | 1 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.06 | 1 | 0.06 | **د هیواد په سطحه د معارف ظرفیت** |
| 0.12 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.04 | **د لوړو زده کړو او معارف د زده کړیز نظامونو تناسب** |
| 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.04 | **په ټولنه کی د نوي ټکنالوژي د تطبیق میزان** |
| 0.1 | 2 | 0.1 | 1 | 0.1 | 2 | 0.1 | 2 | 0.1 | 2 | 0.05 | **په لوړو زده کړو کی استاد محوره اجراات** |
| 4.40 | | 4.60 | | 4.70 | | 4.87 | | 4.98 | | 2 | **مجموعه** |

# د ستراتیژیک پلان لومړیتوب تعینول

| شماره | اولیت | سترا تیژي | برنامه |
|---|---|---|---|
| 1 | زیربنا او تجهیزات | 12. د زیربناوو تولید اوانکشاف (اداري، تحقیقاتي، تدریسي، او تکنالوژیکي).<br>13. د الکترونیکي زده کړو د مرکز تقویه او د پوهنځي چاپیریال سرسبزه کول. | 1. د زیر بنا وو تولید او انکشـــاف ي اداري، تحقیقاتي، تدریسي، او تکنالوژیکي). لپاره کاري پلان.<br>2. د ټولو مراکزو (اداري، تحقیقاتي، تدریسي او تکنالوژیکي) د تجهیزاتو آماده کولو لپاره د عمل پلان.<br>3. د الکترونیکي زده کړو د مرکز تقویه او د پوهنځي چاپیریال سرسبزه کول لپاره د عمل پلان. |
| 2 | د بشري منابعو پراختیا | 1. د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړول.<br>2. د استادانو د ظرفیت لوړول په داوړده مهاله ډول.<br>3. په لنډ مهاله ډول دکارمندانو دظرفیت ته ارتقا ورکول. | 1. د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د عمل پلان.<br>2. د استادانو د ظرفیت لوړول په داوږده مهاله ډول لپاره د عمل پلان.<br>3. په لنډ مهاله ډول دکارمندانو دظرفیت ته ارتقا ورکول د عمل پلان. |
| 4 | لوړو زده کړو ته لاس رسی | 1. د SCL ،OBE د پایلو پر بنسټ د زده کونکي متمرکز سیستم پیاوړتیا.<br>2. دبازار دغوښتنو مطابق دکریکولم تقویه. | 1. د SCL ،OBE د پایلو پر بنسټ د زده کونکي متمرکز سیستم پیاوړتیا لپاره د عمل پلان.<br>2. دبازار دغوښتنو مطابق دکریکولم تقویه لپاره د عمل پلان.<br>3. دمحصلانو په شمیر کي زیاتوالي راوستل لپاره د عمل پلان. |
| 5 | د اداری پراختیا او جوړښتونه | 1. د کمپیوټري سیستم جوړول، د مدیریت او رهبرۍ او تکنالوژیکي پیاوړتیا. | 1. د کمپیوټر سیستم رامینځته کولو او د مدیریت او رهبرۍ د ټیکنالوژۍ پیاوړتیا لپاره د عمل پلان.<br>2. د عمل پلان د کارکوونکو د کار د کچې د لوړولو لپاره. |
| 6 | علمي او تحقیقي برخه | 1. د علمي څیړنو او عملي پروګرامونو ته وده ورکول.<br>2. ارتقا کیفیت او اعتبار نامه او دتفاهم لیکونو څخه ګټه اخستل. | 1. د علمي څیړنو او عملي پروګرامونو ته وده ورکولو لپاره د عمل پلان.<br>2. ارتقا کیفیت او اعتبار نامه او دتفاهم لیکونو څخه ګټه اخستل لپاره د عمل پلان. |

## د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان اهداف او د ښوونې او روزنې پوهنځي برنامې:

### 1.1. د علمي-څېړنيزو پروګرامونو پراختيا

.اوله اړتيا: د ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د استادانو معرفي کول.

**کړني:**

1) د مؤسسې د رياست څخه د ماسترۍ او دکتورا د برنامو ته د استادانو د معرفت غوښتنه.
2) څېړنيزو لنډ مهاله سمينارونو او فيلوشيپونو ته د استادانو معرفت.

**دوهمه اړتيا : د څېړنو د اطاق جوړول :**

ښوونې او روزنې پوهنځي د خپل مسؤوليت په اساس اړينه بولي تر څو په ذکر شوي پوهنځي کې د څېړنو لپاره يو مجهز اطاق جوړ کړي.

کړني:

1) د تحقيقاتی مرکز لپاره د لازمو توکو برابرول.
2) د پوهنځي اړوند استادانو هڅول ترڅو د يو تحصيلي کال په جريان کې يوه يوه څېړنه يا علمي کنفرانس تر سره کړي.
3) په پوهنځي او د مؤسسې په داخل کې د څېړونيزو ټرينينګونو دايرول.
4) د پوهنځي اړوند ټولو محصلينو لپاره د يوه نسبي تحقيقاتي فعاليتونه ليست کول.
5) د هيواد په داخل کې د ځينو پوهنتونو سره د څېړنيزو کړنو اړوند تفاهم ليکونو لاسليکول.

### 1.2. دريمه اړتيا : څېړنيز او علمي ابتکارات تر سره کول:

د ښوونې او روزنې پوهنځي خپلو ټولو اړونده علمي برنامو کې ددي فرصت او زمينه برابروي تر څو ټول امکانات په کار واچوي. د ټولنې ستونزي مشخصې کړي او په څېړنيزو چارو کې د يادو ستونزو د حل هڅې جاري او ګړندي وساتي. د ښوونې او روزنې پوهنځي مسؤوليت لري تر څو د خپلو استادانو، محصلينو او اداري کارمندانو نوښتونه وستايي.

**کړني:**

1) د پوهنځي اړوند استادان هڅول څو په هر کال کې يوه څېړنه تر سره او پايلي يې د علمی مجلو له لاری نشر کړی.
2) د ښوونې او روزنې پوهنځي اړوند محصلان هڅول څو د اخری کال د دوه سمسترونو د سمينارونو په عوض دوه ابتدايی څېړنی تر سره کړی.
3) د ښوونې او روزنېپوهنځي اړوند استادان هڅول څو زابل ولايت تعليمی ستونزی لومړی په نښه او بيا يې په علمی ډول وڅيړی.
4) د پوهنځي په سطحه هر کال د بيلابيلو څانګو لپاره د نوښتونو يو ننداړتون په لاره اچول.

### ۱.۳. علمي آزادي:

په هره اندازه چې علمي آزادي مروجه کیږي او په وړاندي یې ستونزي لیري او د هیواد منور قشر (محصل او استاد) ته علمي منابع په واک کې ورکول کیږي په هغه اندازه د تقلید ځاي تحقیق او نوښت نیسي، استاد او محصل د ټولنې په وړاندي د مسؤولیت احساس کوي او د خپلو ګټورو علمي څیړنو او نظریو په اساس د ټولنې غوښتنې پوره کوي. علمي آزادي په تدریسي ټولګیو کې د مؤثري او ګټوري مباحثي فضاء رامنځته کوي. د کنفرانسونو د ارایه کولو، د علمي سمینارونو او ورکشاپونو په لاره اچولو، د کتاب او مقالي لیکل د علمي آثارو نظارت، نشر او چاپولو او د نوي پوهي په تولید کې اساسي او حیاتي ارزښت لري، د پورته محیط په رامنځته کولو کې د ټولنې د (مادي او معنوي) رشد سبب ګرځي. د دي لپاره لاندي ستراتیژیاني په نښه شوي دي، تر څو پوهنځي نوموړي هدف ته ورسیږي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| علمی پروګرامونه | علمي آزادي | 1. په پوهنځي کې د علمي آزادي مفهوم عامولو لپاره ورکشاپونه دایرول.<br>2. په پوهنځي کې د علمي آزادي د مخالفتونو د مواردو معلومول.<br>3. په پوهنځي کې د علمي آزادي د اړتیاوو په نښه کول.<br>4. د علمي آزادي پالیسۍ تطبیقول. |

## 2. ښه حکومتداري ، د سیستمونو جوړول او د فساد سره مبارزه

### ۲.۱. ښه حکومتداري

د ښوونې او روزنې پوهنځي حکومتداري، رهبریت او اداره د خپل ماموریت او ستراتیژیکو موخو ته په رسیدو باندي متمرکزه ده. پوهنځي د ښې حکومتداري په برخه کې د منظم تشکیلاتي جوړښت په لرلو سره د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې د پوهنځي په سطحه کمیتې لري؛ چې هره کمیته د ټاکلو دندو په لرلو سره د ښه حکومتداري په برخه کې فعالیت کوي. نوموړي کمیتې د رهبرۍ په همکاري سره د کړنو د ښه اجراء په موخه مختلیفي پالیسۍ جوړوي او د عملي کیدو په اړوند یې لازمي کړني ترسره کوي. په همدي ډول د ښې حکومتداري د یو اصل په توګه نوموړي کمیتې د پوهنځي د کارمندانو کړني بررسي کوي؛ او د ستونزو د موجودیت په صورت کې د حل لاري ورته وړاندي کوي. د پوهنځي رهبري د روزمره کارونو د ښه والي په موخه د عملیاتي پلانونو د ترتیب او د هغه پلان د عملي کیدو لارښوونه کوي؛ او نوموړي پلانونه د منظم تقسیم اوقات له مخې ارزول کیږي. ددې لپاره چې په پوهنځي کې د ښه حکومتداري ستراتیژیکي موخې ته ورسیږو لاندی کړني ضروري دي، چې باید ترسره شي.

### ۲.۲. لومړي اړتیا: رهبری او مدیریت:

د یوې اداري ښه رهبرۍ او مدیریت کول، د همهغې اداري د پرمختګ او انکشاف سبب ګرځي. تیرو تجربو ته په کتو سره ښوونې او روزنې پوهنځي د قوی هوډ او مؤثره مدیریت په درلودلو سره د علمي خدماتو او اداري چارو د ښه او مؤثره اجراء په موخه د ۱۴۰۲ کال په جریان کې د پوهنځي لپاره د رهبري شورا په درلودلو سره چې د ځانګو امرین او د پوهنځي اړوند ۱۹ تنه استادان یې غړیتوب لري او د مشکلاتو په حلولو کې به موثره اجراءت ترسره کړي. نوموړي شوراء یوه خپلواکه شوراء ده او مسؤولیت او صلاحیت ته په کتو سره خپلي کړني ترسره کوي. د نوموړي شورا غړي په لاندي جدول کې روښانه شوي دي:

| شمیره | نوم | دنده | په شورا کې دنده |
|---|---|---|---|
| ۱ | پوهنیار طاوس خان هیوادمل | د پوهنځي رئیس | د شورا مسؤول |
| ۲ | پوهنیار بشیرالله دانش یار | د کیمیا څانگې آمر | د شورا غړی |
| ۳ | نوماند پوهنیار خلیل احمد امین | د ریاضي څانگې آمر | د شورا غړی |
| ۴ | نوماند پوهنیار ولي خان رحیم زوي | د بیولوژي  څانگې آمر | د شورا غړی |
| ۵ | نوماند پوهنیار موسی خان خپلواک | د فزیک څانگې آمر | د شورا غړی |
| ۶ | پوهنیار انعام الله عابد | استاد | د شورا غړی |
| ۷ | پوهنیار حکمت الله حقپال | استاد | د شورا غړی |
| ۸ | پوهنیار عبیدالله عبید | استاد | د شورا غړی |
| ۹ | پوهنیار محمد ظاهر درانی | استاد | د شورا غړی |
| ۱۰ | پوهنیار وحیدالله زغم | استاد | د شورا غړی |
| ۱۱ | نوماند پوهنیار گل الرحمن احساس | استاد | د شورا غړی |
| ۱۲ | نوماند پوهنیار عبدالرحیم امین | استاد | د شورا غړی |
| ۱۳ | نوماند پوهنیار روزي محمد اکبري | استاد | د شورا غړی |
| ۱۴ | نوماند پوهنیار خان محمد صابر | استاد | د شورا غړی |
| ۱۵ | نوماند پوهنیار عبدالنافع همت | استاد | د شورا غړی |
| ۱۶ | نوماند پوهنیار محمد نعیم منیب | استاد | د شورا غړی |
| ۱۷ | پوهنیار محمد خالد افغان | استاد | د شورا غړی |
| ۱۸ | نوماند پوهنیار محمدحنیف تکل | استاد | د شورا غړی |
| ۱۹ | نوماند محمد خان قلم یار | استاد | د شورا غړی |

له  بله طرفه د نوموړي شورا له لوري به د پوهنځي لپاره د وخت اړوند ستراتیژي چې د پوهنځي د لرلید، رسالت، او اهدافو ترلاسه کولو لپاره وي، ټاکي. د ښوونې او روزنې پوهنځي  د داخلي اوخارجي محیط د نهه خانه یي متریکس په اساس محافظه کاره ستراتیژي کاروي. په محافظه کاره ستراتیژۍ کې داخلي ضعف نقطي اصلاح کوي ترڅو د خارجي فرصتونو څخه گټه واخلي. په همدي اساس

ښوونې او روزنې پوهنځي رهبري د داخلي مدیریتي جریان او تشکیلاتي جوړښت د حوزي مشکلات حل کوي؛ ترڅو د راتلونکو محیطي فرصتونو څخه برخمن شي. ددي لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځي د ادار0ي د رهبري یوه قوي او ژمن ټیم له لوري د مدیریتي جریان او کړنو څخه نظارت کوي؛ چې د سواټ (SOWT) د تحلیل په اساس یې ورته لاندي برخو کې فعالیتونه په نښه کړي دي.

| فعالیتونه | دنده |
|---|---|
| د پوهنځي د ټولو څانګو قوي کول او ور څخه نظارت کول.<br>د مدیریتي جریان اصلاح کول.<br>د نویو څانګو ایجادول. | د پوهنځي جوړښت او تشکیل |
| د پوهنځي بشري سرچینو کې پراختیا راوستل.<br>د ټولنې ضرورتونو د رفعه کولو په اساس په بشري سرچینو (محصلینو) کې پراختیا او اصلاح رامنځته کول. | دبشري سرچینو منظمول |
| د پوهنځي د کړنو په برخه کې د معلوماتي ټکنالوژۍ کارول.<br>د ټکنالوژۍ فزیکي جوړښت ته پراختیا ورکول. | ټکنالوژي |
| د اړونده سکتوري ادارو سره تړامیتونه ترسره کول. | تړامیتونه (عمومي او تخنیکي اړیکې) |
| د پوهنځي جذب زیاتول.<br>د ځیرکو او لایقو محصلینو جذبول.<br>د پوهنځي تدریسي بهیر څخه کتنه او نظارت کول.<br>د مصؤنیت ساحه پراخول. | تدریس |
| د څیړنیز بهیر څخه نظارت او اصلاحي اقدامات ترسره کول.<br>د پوهنځي د استادانو او محصلینو اړیکې د ټولنې او صنعت سره زیاتول.<br>د علمي تولیداتو (مجله او مقالي) په برخه کې پراختیا رامنځته کول. | څیړنه |

## ۲.۳. دوهمه اړتیا: د فساد کمول او شفافیت رامنځته کول:

د فساد کمول او د شفافیت رامنځته کول د هر سازمان دنده ده ځکه نو ښوونې او رزونې پوهنځي د ښه حکومتداري په برخه کې دي موخې ته د رسیدو لپاره یوه فرعي کړنه ټاکلي ده؛ ترڅو د شفافیت په رامنځته کیدو سره به د حکومتداري په برخه کې لا ښه والی راغلی وي. د نوموړي کړنې لپاره لاندي ستراتیژیاني ټاکل شوي دي:

| کړنې | فساد کمول او شفافیت رامنځته کول |
|---|---|
| فساد سره د مبارزي په اړه محصلینو، کارمندانو او استادانو ته عامه پوهاوی ورکول.<br>د پوهنځي رهبري د فساد سره د مبارزي د شفافیت رامنځته کولو په موخه باندي غونډې کول. | عامه پوهاوی |
| د فساد په وړاندي د لوړو زده کړو وزرات ، مؤسسې او پوهنیځی د قوانینو او لوایحو په عادلانه ډول تطبیق کول. | د قوانینو او لوایحو تطبیق کول |
| د فساد سره د مبارزي او شفافیت رامنځته کولو په موخه باندي د فساد د ترسره کیدو په موخه د پریکړو څخه د محصلینو، استادنو او کارمندانو خبرول. | د پریکړو کول او د شواهدو راټولول |

**۲.۴ دریمه اړتیا: د نشراتو کمیټې ایجادول:**

د ښوونې او روزنې پوهنځي په خپل چوکاټ د نشراتو او فرهنگي چارو کمیټه لري چې د یادي کمیټې له لوري ټول فعالیتونه او چارې د یادي کمیټې کړنې او مسؤولیتونه په لاندي ډول دي.

**کړني:**

1) د استادانو سره کار کول څو په هر کال کې یوه علمی مقاله د یوی علمی مجلی له لاری نشر ته وسپاری.

2) د نشراتو اړوند لومړنی کارونه تر سره کول

3) د استادانو او محصلانو لپاره دمقالو نندارتون جوړول.

**۲.۵ څلورمه اړتیا: د لومړنیو صحي خدماتو په مؤخه د یوه صحي مرکز ایجادول:**

دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځي ځانگې زیاتی لری او دمحصلینو تعداد یې هم زیات دي نو یوشمیر لومړنیو صحی تو کو ته اړتیا لری .

**کړني:**

1) د مؤسسې دریاست څخه دصحی اولیه درملو غوښتنه کول.

2) د لازمی لومړنیو توکو برابرول.

## ۲.٦ شپږمه اړتیا: د بیروکراسي د کمولو لپاره معلوماتي سیستمونه تطبیقولو پیژندنه:

دعملیاتي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره معلوماتي سیستمونه تطبیقول، یوه لازمه او ضروري غوښتنه او اړتیا ده؛ چې د معلوماتي سیستمونو په منځته راتګ سره فعالیتونه منظم او پر وخت سره سرته رسیداي شي. د معلوماتي سیستمونو استعمال په هر نهاد او سازمان کې حیاتي رول لري او دا سیستمونه معلومات په منظم ډول او سرعت سره په سیستم کې ثبتوي او د بیا استعمال لپاره یې په کارونو کې تیزوالی رامنځته کوي. د معلوماتي سیستم په برخه کې به دښوونې او روزنې پوهنځي د HEMIS، HRMIS او HELMIS اړوند سیستمونه تطبیق او رامنځته کړي؛ چې په مرسته به یې د ټولي اداري معلومات په منظم ډول سره ثبت او دفعالیتونو په برخه کې به ورڅخه استفاده وکړي .

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| د بیروکراسي د کمولو لپاره معلوماتي سیستمونه جوړول | د HEMIS غوره تطبیق<br>د HRMIS غوره تطبیق<br>د HELMIS غوره تطبیق | د مؤسسې درهبری څخه دضرورت وړ اجناسو غوښتنه |

## ۲.۷ اوومه اړتیا: د پوهنځي د عایداتي سرچینو زیاتول:

دا چې هره دولتي اداره او نهاد د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د دولت له لوري د ورکړل شوي بودیجي ترڅنګ نورو مالي سرچینو ته هم ضرورت لري، بناًء یوه دولتي اداره باید د فعالیتونو د ترسره کولو د پاره د دولتي بودیجي ترڅنګ نوري عایداتي سرچیني هم

ولري. که چیري نوري عایداتي سرچیني موجودي نه وي، نو فعالیتونه د ځنډ سره مخامخ کیږي. پرمختګ تر سره کیداي نه شي، او اداره خپلو اهدافو ته نه رسیږي. مختلفي عایداتي سرچیني منځته راوړل او د هغوي څخه په مثبت او مؤثر ډول ګټه اخیستنه اداره خپلو اهدافو ته په آسانۍسره رسولاي شي.

نو د ښوونې او روزنې پوهنځي اداره به په راتلونکو برنامو کې هڅه کوي، تر څو د خپلو عایداتي سرچینو په شمیر کې زیاتوالی رامنځته کړي؛ددې لاري به ښوونې او روزنې پوهنځي اداره وتوانیږي، چي خپل عایدات نور هم اضافه کړي او په فعالیتونو کې به ښه والي رامنځته کړي ترڅو خپلو اهدافو ته رسیدلي وي.

## 3. د نصاب یا کریکولم بیا کتنه او پرمختیا:

### ۳.۱ . د نصاب د انکشاف برنامې او کریکولم

دا چې په تحصیلي برخو کې بدلون خورا په چټکتیا سره روان دی نو په همدي خاطر ښوونې او روزنې پوهنځي غواړي چې د همدی بدلون هم کاروانه واوسی، څو د نوی عصر سره سم ټول فعالیتونه د وخت مطابق عیار کړی، چې په همدی خاطر غواړو چې د زون او هیواد اړتیاوو ته په کتو سره په خپل پروګرامونو او کریکولم کې بدلون راولو. ښوونې او روزنې پوهنځي په پام کې لری چه په راتلونکو پنځو کلونوکې د پوهنځي په کچه د ټولو څانګو کریکولمونه د بازار، ټولنی او سیمی غوښتونو ته کتوسره نوی او سمون پکښي راولی، دی سره به وتوانیږو چه د کار د مارکیټ د غوښتونو سره سم بشری ځواک ټولني ته وړاندي کړو.

**کړني:**

1) د نصاب د شته کمیټي پیاوړی کول.
2) د هری څانګې پر درسی موادو او مفرداتو د سره غور کول.
3) کوښښ کول څو په راتلونکی ۵ کلنو کې د پوهنځي تحصیلی پروګرام د هیواد د پرمختللی پوهنتونونو په شان تنظیم او پلی کړو.
4) دا چې د وخت او ضرورتونو په اساس یو مناسب تحصیلی نصاب ولرو نو لازمی بلل کیږی، څو د خپل تحصیلی نصاب د تغیر او تنظیم لپاره د سکتوری، او مسلکی کسانو سلا مشوری د ځان سره ولرو، چې یاد ټکی هم د پوهنځي په رتلونکی ۵ کلن پلان کې شامل دی.
5) د موجوده کریکولم په اړه یو ټولپوښتنه په لاره اچول یعنی فارغان، محصلین، استادان، په ټولنه کې ښکیلی خواوي او ګمارونکی نهادونه پوښتل او د دوی ټولو نظرونه او وړاندیزونه راغونډول.
6) ټولپوښتنی ته په کتو سره د کریکولم مفردات او درسی مواد مقایسه او تحلیلول.
7) د کریکولم کمیټې د غړو لپاره د ملي او بین المللي پوهنتونونو د کریکولمونو د لیدلو فرصتونه برابرول.

**د لوړو زده کړو وزارت د پالیسی سره سم د کریکولمونو د هغو برخو عوض او نوی کول کوم چه دټولپوښتنی او معیاری تعلیمی نصابونو له مخي اړتیا ورته لیدل کیږی.**

### 4. د کیفیت د لوړاوي مرکز Quality Enhancement Unit (QEU) هر اړخیزه انکشاف او اعتبار تر لاسه کول.

پوهنځي هڅه کوي، چې ښه او معیاري کیفیت ترلاسه کړي ځکه دا کار ددي تر څنګ چې د لوړو زده کړو وزارت یوه غوښتنه ده. همدارنګه د تحصیلي نهاد اعتبار په ټولنه کې لوړ حد ته رسوي. نو په همدي اساس سره ښوونې او روزنې پوهنځي د ستراتیژیکو اهدافو څخه یو هم د کیفیت د لوړاوي اعتبار تر لاسه کول دي. په دي سره به ښوونې او روزنې پوهنځي په خپلو څانګو کې تدریسي او اداري چاري د قناعت وړ او معیاري سي، د پوهنځي اداره په پلان کې لري چې ټول استادانو او اداري کارکوونکو ته د کیفیت لوړاوي د ۱۱ ګوني اصلي او ۴۹ فرعي معیارونو ورکشاپونه دایر کړي. همدارنګه به نوموړي معیارونه په پوهنځیو او څانګو کې

پلي کړل شي، تر څو هر فعالیت مو معیاري وي. د اعتبار په ترلاسه کولو کې به استادانو ته د تدریس په پروسه کې عملیاتي پلان په عملي بڼه ور وښودل شي او همدارنګه دغه پلانونه به د ځانګو او پوهنځیو په سطحه تطبیق او وڅارل شي. د کیفیت د لوړاوي د اعتبار د ترلاسه کولو پروسه کې به د استادانو او اداري کارمندانو تر څنګ د

محصلینو په روزنه هم اجراءت تر سره کړل شي چې د محصل محوري د میتود په تطبیق سره به د محصلینو د پوهې په کیفیت او استعداد کې هم د پام وړ بدلون راشي. ددې لپاره لاندې ستراتیژیاني مشخصې شوي دي:

| موخه | برخې | کړنې |
|---|---|---|
| **کیفیت لوړونه** | د کیفیت د لوړوالي د معیارونو سره د استادانو، مامورینو او محصلینو آشنا کول | 1. د تضمین کیفیت د پوولس ګونو معیارونو د عامه پوهاوي ورکشاپونه آماده کول.<br>2. د پوهنځي استادان، اداري کارکوونکي او محصلین په مکتوبي ډول خبرول تر څو په نوموړي ورکشاپ کښې ګډون وکړي.<br>3. د ورکشاپ پایلې ارزیابي کول. |
| | کیفیت د لوړوالي معیارونه پلي کول: | 1. د پوهنځیو او څانګو لیرلید او رسالت د عامه پوهاوي په موخه شریکول<br>2. د پوهنځیو د لیرلید د تر لاسه کولو په موخه د ستراتیژیکو موخو لپاره کلني تطبیقي او عملیاتي پلانونه او د تطبیق راپور یې ترتیبول.<br>3. د پوهنځیو او څانګو، محصلین، کارمندان، استادان او کمیټې په کلني ډول ارزول ترڅو د د پوهنځي اړوند ستونزې په نښه او د حل لپاره یې کړنې ترسره شي.<br>4. د پوهنځیو استادان، کارمندان او محصلین د ټولنې او د هغې په پرمختګ کې ونډه اخیستنې په موخه علمي او څیړنیز فعالیتونه ترسره کول.<br>5. د پوهنځیو د منظمو او اصولی اجراءتو په موخه منظم تشکیل، د دندو لایحی او شرحه، د کمیټو جوړښت د غونډو یاداښتونه او د پوهنځي اړوند پالیسي ترتیب او تطبیق کول.<br>6. د پوهنځیو د علمي برنامو د انکشاف، تطبیق او ارزونې لپاره په کلني او دوره یې ډول نظارت ترسره کول.<br>7. د پوهنځیو د څیړنې او نوښت رامنځته کولو په موخه د استادانو او محصلینو په کچه څیړنې په پلان کې نیول.<br>8. د پوهنځیو د خپلو محصلینو د شمیر په اساس استادان او کارمندان ګمارل او د هغوی د دندو لایحې په اساس د هغوی د کړنو څخه د انفرادي پلان په اساس ارزونه ترسره کوي او د ظرفیت جوړونې په برخه کې ورکشاپ ورته دایروي.<br>9. د پوهنځي د محصلینو احصائیې معلومات په درلودلو سره د هغوی د حقوقو، نظم او ډسپلین او حرفوي زده کړو په برخه کې د ضرورت په اساس منظم اجراءت ترسره کول.<br>10. د څانګو د کیفیت د لوړاوي او تضمین په موخه کمیټې رامنځته کول چې د پوهنځي د استادانو او کارمندانو څخه به جوړه وي.<br>11. د څانګو ستونزو ته د حل په موخه د شکایاتو صندوقونه چمتو کول، چې د محصلینو، کارمندانو او استاد شکایات ته په کښې رسیده ګي وشي. |
| | د ځان ارزونې راپور آماده کول: | 1. د ځان ارزونې د شواهدو د غونډولو لپاره فرعي کمیټې ایجادول.<br>2. دځان ارزونې تفصیلي راپور لیکل.<br>3. د ځان ارزونې راپور د علمي شورا په واسطه تا ئیدول.<br>4. د ځان ارزونې راپور په مکتوبي ډول د تضمین کیفیت کمیټې ته لیږل. |

### ۴.۱ د لنډ مهاله کورسونو او یا اساسي پروګرامونو دائرول:

لنډ مهاله کورسونه دائرول د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره د عوایدو یوه پراخه منبع جوړیدلایي شي. لکه څرنګه چې لنډ مهاله کورسونه یا اوږدمهاله پروګرامونه د ټولنې یو بنیادي ضرورت دی او یوګڼ شمیر محصلین غوښتنه کوي چې په ډیر لږ وخت کې د مسلکي کورسونو سره آشنایي پیداکړي لکه د ریاضي، فزیک او کیمیا او دي ته ورته نورو لنډمهاله پروګرامونو سره د نوموړو پروګرامونو څخه پوهنځي کولاي شي د عوایدو په لاسته راوړلو کې کار واخلي. د دې کړنې لپاره لاندې ستراتیژیانې مشخصې شوې دي:

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 1) د مختلفو پروګرامونو ترتیب او تنظیم کول.<br>2) د پروګرامونو له پاره درسي مواد، تجهیزات او کریکولم آماده کول.<br>3) د هر پروګرام لپاره د مصارفو او عوایدو کچه تشخیص کول.<br>4) په ټولنه کې د رشد او ودې له پاره د بازار موندنې پلانونه تنظیم کول. | د اساسي پروګرامونو یا لنډ مهاله کورسونو دائرول | پوهنځي ته د عایداتي سرچینو زیاتول |

## 5. بریښنایي زده کړې

د لوړو زده کړو ترلاسه کول ډیر اړین دي او ځیني وختونه د ځاي، وخت، موسم او نورو مشکلاتو له امله څوک نه شي کولاي چې تحصیلي نهاد ته په حضوري ډول حاضر شي او یا هم په ټولګیو کې محصلین په یوه موضوع پوره پوه نشي نو په همدې اساس د ښوونې او روزنې پوهنځي هڅه داده چې د لوړو زده کړو وزارت د انلاین زده کړو سیستمونه په ښه ډول تطبیق کړي چې هر محصل وکولاي شي د هر ځاي څخه، هر وخت د خپلې خوښې موضوع څو ځلې مطالعه او وګوري؛ ترڅو د ستونزو په وخت کې محصل ټول درسي بهیر ته لاسرسی ولري نو د پورته موخو د ترلاسه کولو لپاره لاندې کړنې نیول سوي دي.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 1. د لوړو زده کړو وزارت د انلاین زده کړو د سیستمونو په ښه ډول تطبیقول<br>2. د بریښنایي زده کړو کمیټې ته دنده ورکول، چې یوه فرعي کمیټه ایجاد کړي؛ ترڅو د انلاین زده کړو لپاره پلان جوړکړي.<br>3. د لوړو زده کړو وزارت د انلاین سیستمونو په هکله استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو ته ورکشاپ برابرول ترڅو عامه پوهاوي زیات شي.<br>4. په سیستم کې مواد ځاي پر ځاي کول. | د معلوماتي ټکنالوژي او بریښنایي زده کړو کیفیت لوړول | بریښنایي زده کړې |

## 6. لوړو زده کړو ته لاس رسی

### ۶.۱ لومړي اړتیا :د ښوونې او روزنې پوهنځي کې انګلیسي څانګه ایجادول:

دا چې انګلیسي ژبه یوه نړیواله ژبه ده، د علمي منابعو خورا پریمانه سرچنې لري. نو د یادې ژبې اهمیت او د ټولني اړتیا ته په کتو د ښوونې او روزنې پوهنځۍ په پلان کې لري تر څو په خپل اداري تشکیل کې یاده څانګه پرانیزي او د لوړو زده کړو وزارت څخه یې د پرانستلو اجازه واخلي.

**کړني:**

1) د یادی څانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) دیادي څانګې لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدرسي مواد چمتو کول.

**۶.۲ دوهمه اړتیا: د ښوونې او روزنې پوهنځي کې د تاریخ څانګه ایجادول:**

د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې د تاریخ د څانګې ایجاد د هیواد او په خاص ډول د زابل ولایت یو له اساسی ضرورتونو څخه دی ځکه چې په تاریخی لحاظ پوهه د ټولنی ضرورت دی، چې ګران هیواد د تاریخی پلوه د پوره او ښه منابعو څخه برخمن دی.

کړني:

1) د یادي څانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د یادې څنګې لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدرسي مواد چمتو کول.

**۶.۳ دریمه اړتیا: د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې د پښتو څانګه ایجادول:**

دا چې یاده پښتو ژبه زموږ د هیواد ملي ژبه ده او د پښتو ژبې ادبیات او تاریخ لرغونې مخینه لري او هم ادبي ارزښت لري او په ټولنه کې د پښتو ژبې د مسلکي کسانو موجودیت ډیر ارزښت لري.

**کړني:**

1) د یادی څانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د یادې څانګې لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدرسي مواد چمتو کول.

**۶.۴ څلورمه اړتیا: د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې د شپې پوهنځي ایجادول:**

دا چې په زابل ولایت کښې هیڅ خصوصی پوهنتون وجود نلری او یو زیات شمیریکسان په دولتی او غیری دولتی ادارو کې په دندو بوخت دي، څو د خپلو کورنیو لپاره یوه اندازه مالی حمایه جوړه کړی، چې عین مصروفیت یې ددې سبب شوي دي چې یاد کسان د تحصیل د لاسته راوړولو څخه بی برخی کړی، او له بل پلوه ښوونې او روزنې پوهنځي اداره ځان مکلف ګنی څو د امکاناتو او شرائطو په کتو او ګټې اخستنې څخه د دولت لپاره عایداتي منابع پیدا کړي، د همدې موخو او ټولو اړتیاوو د پوره کیدو په وجه د ښوونې او روزنې پوهنځۍ په پلان کې لري تر څو په خپل تشکیل کې د شپې پوهنځي ایجاد کړي.

**کړنې:**

1) د هیواد د اړتیا سره سم د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د یادي پوهنځي په چوکاټ کې د فزیک، ریاضي، کیمیا او بیولوژی څانګو فعالول
3) د یادي پوهنځۍ لپاره د مالي چارو یو چوکاټ رامنځ ته کول.
4) د یادي پوهنځي لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
5) د کریکولم اړوند تدرسي مواد چمتو کول.

## 7. ظرفیت لوړونه:

### ۷.۱ لمړی اړتیا : د لیسانس کادري غړو لپاره د ماسټري زده کړو فرصتونه ایجادول

د علمي موسساتو د پوهنځیو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو کادري ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کادري پرسونل د پوهنتون د رهبری چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه پرځای ګټه پورته کوي.ښوونې او روزنې پوهنځي چې ټول (۲۹)کادری بستونه لری چې د هغه له جملی څخه شاوخوا ٪۳۴ ماسټران او یا د ماسټری پروګرام په جریان کښي دی چې په دی برخه پورته په تفصیلی ډول بحث شوی دی، پاتې کسان چې تر اوسه پوری د ماسټری فرصت نه دی ورته مساعد شوی، چې ددی برخی لپاره ښوونې او روزنې پوهنځي په راتلونکی ۵ کاله کې په لاندی ډول خپل پلان په لاندی ډول ترتیبوي.

جدول :د ښوونې او روزنې پوهنځي اړوند د ماسټری پروګرام لپاره د استادانو اړوند جدول

| کال | د ماستر استادانو کچې لوړول په فیصدی | د ۱۴۰۱-۱۴۰۵ ه ش پوري ماسټری ته د معرفی کیدونکی استادانو شمیر |
|---|---|---|
| ۱۴۰۱ | ۲۱٪ | ۴ |
| ۱۴۰۲ | ۲۶٪ | ۴ |
| ۱۴۰۳ | ۳۶٪ | ۴ |
| ۱۴۰۴ | ۴۲٪ | ۳ |
| ۱۴۰۵ | ۵۰٪ | ۲ |

### ۷.۲ دوهمه اړتیا : د ماستر استادانو ظرفیت لوړول د دوکتورا تر کچې:

د پوهنتونونو او علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول او د علمی ظرفیت لوړول دي ددی لپاره چې په تحصیلی ډګر کې مو د خپلی موسسی ظرفیت لوړ کړی وی او د لوړو زده کړو محترم وزارت په معیارونو مو خپل تحصیلی نهاد ته د تطابّق زمینه برابره کړی وی نو لازم ده چې خپلو استادانو ته د ماسټری د تکمیل څخه ورسته د دوکتورا زمینه برابره کړو او استادان و هڅوو چې د خپل ظرفیت لوړولو لپاره د دوکتورا تر کچې زده کړی تر لاسه کړی چې په دی برخه کې ښوونې او روزنې پوهنځي خپل پلان په لاندی ډول ترتیبوی.

۱۳ جدول :ښوونې او روزنې پوهنځي اړوند د استادانو لپاره د دوکتورا پروګرام جدول

| کال | د دوکتور استادانو کچې لوړول په فیصدی | دوکتورا ته د معرفی کیدونکی استادانو شمیر د ۱۴۰۱-۱۴۰۵ ل پوری |
|---|---|---|
| **۱۴۰۱** | ۲۰٪ | ۲ |
| **۱۴۰۲** | ۲۵٪ | ۲ |
| **۱۴۰۳** | ۳۳٪ | ۲ |
| **۱۴۰۴** | ۵۰٪ | ۲ |
| **۱۴۰۵** | ۱۰۰٪ | ۲ |

### ۷.۳ دریمه اړتیا : لنډمهاله روزنیز پروګرامونه:

دا چې ښوونې او روزنې پوهنځي د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولنې او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د خپل کارمندان او علمی کادرونه يي د نوی عصر او پرمختګ سره موازی مخ په وړاندی تګ وکړی، چې په همدی خاطر ښوونې او روزنې پوهنځی هم غواړی څو خپل دواړی برخی(کادری او اداری) د اوسنی تدریسی او اداری پرمختګ په پوهه سمبال کړی او د هغوی لپاره سمینارونه په نظر کې لري چې په ذکر شوي برخه کې په لاندی ډول خپل کړنی پلان کوی.

### کړني:

1. د ښوونې او روزنې د پوهنځې اړوند د کادری پرسونل لپاره د تدریسی میتودونو سمنارونه.
2. د استادانو لپاره د څېړنی په برخه کې بیلابیل سمنارونه وړاندې کول.
3. د استادانو لپاره د OBE-SCL سمینارونه وړاندې کول.
4. په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول لپاره هڅې کول.
5. د استادانو او اداری کارمندانو لپاره د تضمین کیفیت اړوند مختلیف سمینارونه وړاندې کول.
6. د لابراتوارد مدیر او کارکونکی لپاره د روزنیز پروګرامونه د دایرولو وړاندیز کول.
7. د استادانو او اداری کارمندانو لپاره د پلان او راپور جوړولو ورکشاپونه برابرول.

## 8: د تقنیني او تخنیکي اسناداو بیا کتنه او ترتیب

ښوونې او روزنې پوهنځي خپل فعالیتونه ،قونین ،مقررات، لایحې او طرزالعملونه ترتیب او بیا کتل شوي د لوړو زده کړو وزارت سره سم مخته وړي .

## 9 : د ملي پوهنتونونو سره د علمي او کلتوری ګډو همکاريو هوکړه لیکونه لاسلیکول:

د اړیکو پیاوړی کول او د نوی اړیکو ټینګول د ښوونې او روزنې پوهنځي په لومړیتوبونو کې قرار لری په خاصه توګه د د ښوونې او روزنې په مراکزو کې لا د وړاندی تر یوه بریده پرمختګ شوی دی ولی د پوهخني د اړیکو راتلونکی چوکاټ په لاندی ډول تعرفوی.

**کړني:**

- د کندهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی سره تفاهم لیک لاسلیک کول.
- د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی سره تفاهم لیک لاسلیک کول.
- د هلمند پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی سره تفاهم لیک لاسلیک کول.

## 10. لوړو زده کړو ته لاسرسی:

ښوونې او روزنې پوهنځي د ولایت او هیواد د ضرورتونو په نبنه کوي او په تحصیلی ډګر کې د هغوی لپاره د مسلکی بشری ځواک روزل د خپلو مسؤلیتونو څخه بولی، چې د همدی مسؤلیت په درک کولو سره غواړی چې د پوهنځي په چوکاټ کې د نورو څانګو په ایجاد سره شته خالیګاوی ډکی او د یوه بامسولیته اداری په ډول کردار ادا کړی.

### ۱۰-۱ لمړي اړتیا: د محصلانو لپاره د بیلابیلو زده کړیزو او ورزشی پروګرامونو په لاره اچول.

ښوونه او روزنه پوهنځي د مسلکی روزنی سره سره باید د پوهنځې اړوند محصلینو ته اجتماعی فعالیتو او په نورو برخو کې د وړتیا لوړولو ته پوره پاملرنه وکړی چې په همدی خاطر لاندی ځینی پروګرامونه په نظر کې نیول شوي دی.

**کړني:**

1) د کریډیټ سیستم او لوړو زده کړو د قوانینو سره د محصلانو د بلدیت پروګرامونه په لاره اچول.
2) د محصلینو لپاره د انګلیسي ژبه او ادبیات او ساینسي مضامینوزده کړي لنډ مهاله پروګرامونه دایرول.
3) د محصلینو لپاره د مختلفو مسلکي کورسونو او پروګرامونو په لاره اچول.
4) د محصلانو لپاره د تفریحی زده کړو د ځینو پروګرامونو په لاره اچول.

### ۱۰.۲ دوهمه اړتیا: د محصل محوري زده کړي (SCL) او د پایلو پر بنا (OBE) د تدریس پروسه مخته وړل:

د محصل محوري زده کړي (SCL) میتود یو له نوو او اغیزمنو میتودونو له جملي څخه شمیرل کیږي، چي محصل په تدریسي بهیرکې زیاته برخه اخلي. په دي میتود کې استاد محصلین دي ته هڅوي چې د تدریس په پروسه کې برخه واخلي او مباحثه وکړي ترڅو محصل د موضوعاتو په هدف او موخه پوه شي. ددې تر څنګ یو بل نړیوال تدریسي میتود د پایلو پر بنا زده کړي (OBE) دي چي په نوموړي میتود کې دپایلو پر بناء زده کړي ترسره کیږي. د تدریسي پروسي په پاي ته رسیدو سره هر محصل باید ټاکل شوي هدف ته رسیدلي وي چي په رسیدو سره به یې د تدریس پروسه معیاري شوي وي. ددي کړني لپاره لاندي ستراتیژیاني تاکل شوي دي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني | کتني |
|---|---|---|---|
| د تدریسي پروسي د کیفیت لوړونه | د محصل محوري زده کړي (SCL) او د پایلو پر بناء (OBE) د تدریس پروسه مخته وړل | 1. د OBE او SCL برنامو لپاره نیاز سنجي کول.<br>2. د نصاب کمیټې ته دنده ورکول، ترڅو د OBE او SCL د برنامو لپاره یو کلن عملیاتي پلان جوړکړي.<br>3. نوموړي کمیته د پوهنتونو سره په دي برخه کې تفاهم لیک تر سره کړي.<br>4. د یو څو تنو استادانو معرفي کول نور پوهنتونو ته ترڅو د SCL او OBE په سمینارونو کې ګډون وکړي. | دا چې پوهنځي مالی استقلالیت نلري نو نموړي فعالیتونه د مؤسسې د ریاست له خوا تر سره کیږي. |

### ۱۰.۲ دریمه اړتیا: په ټولګیو کې د عصري ټکنالوژیکي منابعو کارول او ترمیم :

ټکنالوژي د ژوند په هره برخه او فعالیت کې د پام وړ او اغیزمن بدلونونه رامنځ ته کړي دي. نو په دي اساس په ټولګیو کې هم باید د ټکنالوژیکي موادو لکه (مُلټي میډیا ، LCD او کمپیوټر) څخه ګټه واخیستل شي، ترڅو درسي مفردات، موضوعات او لکچر په ډیره

روښانه، واضح او آسانه ډول تر محصلينو پورې ورسيږي او د تدريس پروسه نوره هم معياري شي. ښوونې او روزنې پوهنځي په پلان کې لري، چې د نوموړې اړتيا لپاره لاندې کړنې ترسره کړي. ددې کړنې لپاره لاندې ستراتيژياني ټاکل شوي دي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې | کتنې |
|---|---|---|---|
| د تدريسي پروسې د کيفيت لوړونه | په پوهنتون کې د عصري ټکنالوژيکي منابعو استعمال او ترميمول | 1. په پوهنتون کې د تدريس لپاره د پروجکټور او ملټي ميډيا څخه ګټه اخيستل.<br>2. په پوهنتون کې د انټرنيټ آسانتياوې رامنځته کول.<br>3. په هرو شپږو مياشتو کې د پوهنتون د ټکنالوژيکي وسايلو څخه نظارت او ترميمول. | دا چې پوهنځي مالي استقلاليت نلري نو نوموړې فعاليتونه د مؤسسې د رياست له خوا تر سره کيږي. |

## ۱۰.۳ څلورمه اړتيا: د استادانو پوهه د ټکنالوژۍ سره زياتول:

د نوي ټکنالوژۍ په رامنځته کيدو سره د پوهي لمنه زياته پراخه شوي ده او د تدريس په بهير کې د ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل درسي بهير نور هم مؤثرکوي. ښوونې او روزنې پوهنځي د استادانو لپاره ځيني لنډ مهاله روزنيز ورکشاپونه په پلان کې لري، چې د استادانو پوهه به د ټکنالوژۍ په برخه کې نوره هم زياته شي؛ ترڅو دوي په درسي بهير کې ترې استفاده وکړي او تدريسي بهير نور هم معياري او ښه کړي. ددې کړنې لپاره لاندې ستراتيژياني ټاکل شوي دي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| د تدريسي پروسې د کيفيت لوړونه | د استادانو پوهه دټکنالوژۍ سره زياتول | 1. د الکترونيکي زده کړې کميټې ته دنده ورکول ترڅو د استادانو د ټکنالوژۍ د استعمال سره د بلدتيا په موخه عملياتي پلان ترتيب کړي.<br>2. د عملياتي پلان له مخې د ټکنالوژۍ په برخه کې استادانو ته مختلف سيمينارونه، ورکشاپونه او روزنيز پروګرامونه آماده کول. |

## ۱۰.۴ د بستونو تزئيد او تعديل:

**الف ـ تزئيد:**

| ګڼه | د بست نوم | اداره | رتبه | تعداد | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کتابتون مديريت | ښوونې او روزنې پوهنځي | ۵ | ۱ | |

**ب ــ څانګې:**

| ګڼه | پوهنځي | څانګې | د بست نوم | رتبه | تعداد | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښوونه او روزنه | رياضي | استاد | ۴ | ۴ | |
| | | فزيک | استاد | ۴ | ۳ | |
| | | کيميا | استاد | ۴ | ۳ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | بیولوژي | استاد | ۴ | ۳ | |

## 2. زېربنايي تأسيسات

### ۲-۱: د بنسټيزو جوړښتونو ( زيربناوو ) پراختيا:

د ښوونې اوروزنې پوهنځي چې میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په علمي چوکاټ کې د مؤسسې د تاسیس سره سمه جوړه شوه، چې په همغه وخت کې یې څلور څانګې لرلې چې تر دې دمه په همدغو څلورو څانګو کې فعالیت کوي. ښوونې او روزنې پوهنځي له پیل څخه بیا تر اوسه پورې د ټولګیو د کموالي له ستونزې سره لاس او ګریوان ده، چې د همدې ستونزې د له منځه وړلو په موخه د پوهنځي په کچه هڅې روانې دي ترڅو ښوونی اوروزنې پوهنځي د خپل ځان لپاره یو مجهز تعمیر ولري چې همدا هڅې د پوهنځي د ستراتیژیک پلان یوه مهمه برخه جوړوي. پوهنځي په پلان کې لري ترڅو د پوهنځي په کچه هڅه وکړي چې د تدریسي او اداري خونو د ستونزو د له منځه وړلو په موخه په وخت کارونه ترسره کړي.

### ۲-۲: ساختماني چارې:

د عملي او نظري تدریس لپاره مجهزو درسي خونو، د پوهنځي په سطحه کتابتون ( چې ریفرنس کتابونه ولري)، لابراتوار،(نوي او تازه مواد او وسایل) ،کمپیوټر لیب او نېټ سیستم ، د پوهنځي د اداري چارو د سرته رسولو لپاره د مناسب ځای شتون ډېر مهم دي او باید ټول ضروري تجهیزات په کښې موجود وي، خو د مؤسسې د مالي امکاناتو په حدودو او د مختلفو ارګانونو څخه د مرستو د جلب او جذب په تناسب لاندي بنیادي اړتیاوي په پینځو کلونو کې د پوهنځي د عاجل ضرورت او د هغه د اهمیت او اولویتونو په نظر کې نیولو سره په دې ترتیب سره جوړ شي:

1. د ښوونې اوروزنې پوهنځي لپاره تر اوسه ځانګړی تعمیر وجود نه لري نو باید تدریسی اواداری تعمیرونه ورته جوړشي.
2. دپوهنځي په کچه د کتابتون فعالول او هغه ګټه اخیستني ته چمتو کول.
3. د کمپیوټر لیب اماده کول .
4. د غونډو، علمي مجالسو لپاره د تالار اماده کول .
5. دپوهنځي ریاست، څانګو د امریتو او اداري خونو لپاره اړین وسایل او امکانات اماده کول.
6. د پوهنځي لپاره د لابراتوار ایجاد.
7. د محصلینو لپاره د مطالعې د چاپیریال اماده کول.
8. د استادانو او محصلینو لپاره د دوامداره انټرنیټ اسانتیاوې برابرول.
9. دتدریسي خونولپاره د(میز،چوکۍ، پرجکتور او نور درسي مواد) په خپل وخت سره برابرول.
10. د محصلینو لپاره د علمي سفرونو د زمینې برابرول.

### ۲-۳ :د چاپیریال ساتنې اړوند کړنې:

پوهنځي به په راتلونکې پنځو کالونوکې په دې وتوانیږي چې د خپلو محصلینوو، استادانواو کارمندانو لپاره دپاک چاپیریال په اماده کولو کې لاندې کړنې ترسره کړي.

1. د ښوونی اوروزنی پوهنځي اړوندو ساحو کې دهیواد د وتلیو اسلامي ،اجتماعي ، فرهنګي او ادبي اشخاصو او ساینس پوهانوپه اړه معلومات په بېنرونو کې چاپ او را ځوړندول .

2. د پوهنځي او د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو اسلامي، اجتماعي ،فرهنګي ،ساینسي او نشراتي برخې سمول  او د یوې مجلې په توګه ټولنې ته وړاندې کول .

## ۴-۲: اړینې اسانتیاوې رامنځته کول:

دښوونې او روزنې پوهنځي  استادان او محصلین غواړي ، چې داړینو اسانتیاوو د ترلاسه کولو لپاره لاندي کړنې ترسره کړي:

1. د کمپیوټر لېب اماده کول .
2. د  محصلینو لپاره د مطالعه چاپیریال اماده کول .
3. د استادانو لپاره د مطالعې خونې  او نورې اړینې اسانتیاوې اماده کول .
4. د درسي توکو اماده کول .
5. دعملي تدریس دپاره (لابراتوار،کتابتون،کنفرانسونه،مسابقي او ادبي بهیر ) برابرول .
6. د محصلینو او استادانو لپاره د ورزش اسانتیاوو رامنځته کول.

## ۴-۲: د ساتنې په برخه کې کړنې:

هغه ودانۍ چې د ښوونې اوروزنې پوهنځي لپاره اماده شوي او هغه امکانات چې اوس مهال ښوونه اوروزنه  پوهنځي یې په اختیار کې لري د ساتنې لپاره کاري او تدابیري پلان ته اړتیا لري چې په دې برخه کې لاندي کړنې په پام کې نیول شوي دي .

1. د پوهنځي د اړوند وسایلو او لوازمو د ساتنه لپاره د حفظ او مراقبت بست اخیستل او پکې مسؤل کس ټاکل.
2. دپوهنځي د شته امکاناتو د ساتنې لپاره د کاري پلان اماده کول او له هغه څخه ساتنه کول.

## د ښوونې او روزنې پوهنځۍ تدریسي بلاک (تدریسي ټولګې، کنفرانس هال، معیاري کتابتون او کمپیوټر لیب):

څرنګه چې تدریس د تحصیلي نهاد د فعالیتونو څخه یو د ډیرو مهمو او ارزښتمنو فعالیتونو له جملې دي، په همدې اساس د زیربنایي تأسیساتو د جوړیدلو پر مهال تر څو په یاد تعمیر او بلاک کې تدریسي صنفونو کتابتون، کمپیوټر لیب او لابراتورونو کنفرانس حال چې په کې منظم او معیاري اطاقونه اماده شي، تر څو د ښوونې او روزنې پوهنځۍ فزیکي سرچینو ستونزه حل سي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني | کتني |
|---|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د ښوني اوروزني پوهنځي  تدریسي بلاک جوړول | 1. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د تدریسي بلاک ساختماني چاري پرمخ وړل<br>2. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د تدریسي ټولګیو تعمیرول.<br>3. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کنفرانس هال تعمیرول.<br>4. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کتابتون تعمیرول.<br>5. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کمپیوتر لیب تعمیرول. | دا چې پوهنځي مالی استقلالیت نلري نو نموړي فعالیتونه د مؤسسې د ریاست له خوا تر سره کیږي. |

### د ښوونې او روزنې پوهنځي لنډ مهاله موخې:

تر راتلونکو پنځوکلونو پوري د ښوونې او روزنې پوهنځي ځيني موخې عبارت دي له:

1. د دريو څانگو انگليسي، پښتو او تاريخ څانگو ايجاد.
2. هر کال د علمي کادر غړي ماستري دوکتورا بورس ته معرفي کول ؛
3. د لوړو زده کړو وزارت او موسسې له لوري د ظرفيت لوړاوي هر دا پروگرام ته د استادانو او اداری کارمندانومعرفی کول.
4. د لوړو زده کړو وزارت څخه د کيفيت لوړاوي په برخه کې تضمين کيفيت د لمړۍ او دوهمې مرحلې پاسول.
5. د همکاري تفاهمنامې لاسليک کول.
6. د کتابتون جوړول.
7. د لابراتوار جوړول.

- لاندې موخې د ښوونې او روزنې د لرليد او رسالت د لاسته راوړولو په موخه ټاکل شوي دي:
- د ښوونې او روزنې پوهنځي په ټولو څانگو کې د ټولنې د خدمت لپاره د مسلکي ښوونکو روزنه
- د زده کړيزو موخو د کيفيت لا ښه والي لپاره پرلپسې هڅې
- د استادانو او کارمندانو ظرفيت لوړونې ته ژمنتيا
- د علمي برنامو پراختيا، ايجاد او ترتيب (اصلاح او ترکيب)
- د مطالعې، تدريس او څېړنې لپاره د مناسب چاپيريال رامنځته کول
- په ټولو اړونده څانگو کې د څېړنې ترويج او تقويت
- د کيفيت لوړاوي او خدماتو په ارايه کولو کې په ملي کچه رقابت
- د فارغ شوو محصلينو سره د دندو په پيدا کولو کې مرسته او هغوی دولتي او خصوصي ادارو ته معرفي کول
- د بنسټيزو ودانيو وده او پراختيا

# د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۱-۱۴۰۵ هـ ش) لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځی عملیاتي پلان:

د پنځه کلن ستراتیژیک پلان پلي کول مالي لګښت ته اړتیا لري او پورته چې کوم رغنیز او اکاډمیک فعالیتونه پلان شوي دي، د هغوی د تطبیق له پاره هم منابعو ته اړتیا لیدل کېږي. د پورته فعالیتونو او پلان شوي کړنو د لګښت مالي پلان په لاندې ډول ترتیب شوي دی. که څه هم د ډېرو تآسیساتو جوړول، د پوهنځي لپاره اړین دي او باید ټول ضروري ودانۍ لکه تدریسي، اداري، کتابتون، لابراتوار او داسې نور جوړ کړل شي مګر د مالي امکاناتو چمتو کول ورته یو اندازه ستونزمن کار دی. د لاندې بنیادي تآسیساتو د وخت په تفکیک تخمیني لګښت په راتلونکو پنځو کلونو کې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي اړتیا او د هغه د اهمیت او اولویتونو په نظر کې نیولو سره په پلان کې نیول شوي دي.

| دپایلو پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځی د( 1401) کال عملیاتي پلان | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمیره | اصلي موخې | عمده فعالیتونه | شاخص | د کلنې ټاکل شوی فعالیت مقدار یا فیصدي | د اړتیا ور سرچینې | د اجراء مسول | همکاره اداري او وزارتونه | د فعالیت د پیل نېټه | د فعالیت د ختمېدو نېټه | د سپارلو نېټه | په ربعو کې د فعالیت مقدار یا فیصدي | | | | د اړتیا ور بودیجه | | د بودیجې د اړتیا اړوند دلایل او معلومات | متوقعه پایلې | کتنې |
